مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۰/۰۸/۰۹

# غزل

له درده ډکه زندګي نه غواړم
د بندګانو بندګي نه غواړم

لمبې مې تېرې اوس سکروټه يمه
فتواوې نورې لاهوري نه غواړم

وران او ويجاړ دې خدای کابل غوندې کړه
ستا ملګرتيا او ستا وروري نه غواړم

درنې خپېرې به تر کله خورمه
د قام مشران زه بازاري نه غواړم

غواړم چې زړه باندې اثر ولري
زه بې مقصده شاعري نه غواړم

راشه د وصل د نغمو په شور کښېنې
نور مې د زړه دا خاموشي نه غواړم

ای پسرلېه سپينې، سپينې وايه
ستا د قلم دا مجبوري نه غواړم

مصطفی پسرلی
08/08/2020


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ